سپېڅلي کردارونه

# سرباز پښتون

فضل علي ساګر(ترنګزے)

پوهان وائي چې ژوندي قامونه تاريخ جوړوي او مړهٔ قامونه تاريخ ليکي. قامونو کښې د پښتون قام تاريخ ډېر ځلنده او يو جدا خاصيت لري. د پښتون تاريخ ډېر خور وور دے خو د بده مرغه د پښتون تربګني د ازل نه د هغهٔ سره راغلې ده. ځنې تاريخ ليکونکو د پښتون قام د تاريخ سره ډېر زياتے کړے دے، دوي پښتون قام په تاريخ کښې د ظالمانو او سرکشه قام په نوم ياد کړے دے، ولې دوي په خپله دغلته دوکه خوړلې ده چې پښتون قام ئې په سرکشه ياد کړے دے. دغلته دوي په خپله د دې قام لوئي او سربازي منلې ده.

پښتون د ازله يو تورزن ننګيالے سرباز او زړور قام دے. دې داسې سربازان زېږولي دي چې د هغوي حوصلو او لويوالي ته د ايلم او د تاترې غرونه په تعظيم راټيټ شوي دي او په خپله سينه ئې لار ورکړې ده. کله چې د ترکي حکومت ختم شو او مسلمانانو ته پته ولګېده چې انګرېزان مسلمانانو سره وفادار نهٔ دي او مسلمانان ختمول غواړي نو مسلمانانو د آزادۍ تحريک شروع کړو، لکه څنګه چې معلومه خبره ده چې پښتون قام په دين مئين او د آزادۍ د شمعې پتنګان دي نو دوي هم د آزادۍ بېرغ په لاس کښې واخستو، کفنونه ئې په سرونو وتړل او د آزادۍ جنګ ئې د حاجي صېب ترنګزو په مشرۍ کښې شروع کړو.



حاجي صېب ترنګزو سره د اتمانزو يو درويش خان عبدالغفار خان ملګرے شو او د پېرنګيانو خلاف جدوجهد ته ئې ملا وتړله. خان عبدالغفار خان د خدائي خدمتګار په نوم يو ټولے جوړکړو چې په هغې کښې د هشنغر سره سره د ګردې پښتونخوا پښتانهٔ ملګري شول. دې ټولي کښې ډېر لوئے سربازان پېدا شول چې تاريخ په خپلو پاڼو کښې په زرينو کرښو وليکل.

زهٔ هم د يو دغسې سرباز بې باکه غېرتي، نوميالي او د خدائي خدمتګار تحريک په يو غړي ليکل کوم چې باچا خان به ورته خپل ښے لاس وې.

د باچا خان هغه ښے لاس څوک او د کوم ځائے اوسېدونکے ؤ، د هغهٔ شډل بډل پښتون نوم سعادت خان ؤ او تخلص ئې ځان له جلبل اېښودے ؤ.

دے کال ۱۹۱۲ کښې د هشنغر په مشهور کلي ترنګزو کښې پېدا شوے ؤ، د پلار نوم ئې حکمت خان ؤ. اوس ئې هم د پلار په نوم د (حکمت خان کورونه) کلے اباد دے. په خټه محمدزے پښتون ؤ، اګر چې په کليوال ماحول کښې پېدا شوے ؤ او په دغه وخت کښې تعليم طرف ته د چا ډېره پاملرنه نۀ وه او پېرنګيانو خپل محکوم قامونه په خاصه توګه پښتانۀ د تعليم نه لرې ساتل غوښتل. په دې لړ کښې ئې يوه پروپېګنډه خوره کړې وه "چې سبق د مدرسې وائي دپاره د پېسې وائي – جنت کښې به ئې ځائے نۀ وي په دوزخ کښې به غوټې وهي. د دې هر څۀ باوجود د جلبل صېب په زړۀ کښې د تعليم سره مينه وه او د دې مينې له کبله ئې تعليم شروع کړو.

په دغه وخت د انګرېز حکومت سکولونه د نيشت برابر وو، نو جلبل څکه د تعليم آغاز د اتمانزو آزاد هائي سکول نه وکړو. دا سکول باچا خان جوړ کړے ؤ، په دې سکول کښې ئې د تعليم سره سره د آزادۍ تلقين هم ورکولو. په دغه وجه د جلبل صېب په زړۀ کښې د تعليم نه زياته د آزادۍ سره مينه پېدا شوه او د پېرنګي خلاف ئې طوفاني جذبې په زړۀ کښې راولاړې شوې.



جلبل ډېر ذهين طالبعلم ؤ، تر لسم جماعته پورې ئې سبق ووې او بيا د آزادۍ مينې نور سبق وئيلو ته پرې نۀ ښودو. د دې نه پس ئې د پېرنګي خلاف د ملک د آزادۍ دپاره کلکه ملا وتړله، د طالبعلمۍ د زمانې نه جلبل د خدائي خدمتګار تحريک سره تړلے ؤ، خو چې هر کله په ۱۹۳۰ کښې باچا خان د نحقۍ پوليسو ګرفتار کړو نو ټول پښتانۀ د پېرنګي خلاف راوچت شول او په ملک کښې د پېرنګي خلاف يو عظيم جدوجهد شروع شو. جلبل صېب د طالبعلمۍ په دور کښې په دغه هلو ځلو کښې حصه اخستې وه او د آزادۍ ناوې ګټل ئې خپل منزل ګرځولے ؤ. دوي حجره په حجره او کلي په کلي ګرځېدل، تقريرونه به ئې کول او پښتانۀ به ئې د پېرنګي خلاف راپارول. په ژبه کښې ئې خدائے پاک دومره خوږوالے اچولے ؤ چې چا به د هغوي تقرير اورېدو نو د زړۀ د اخلاصه به د آزادۍ حاصلولو دپاره په خدائي خدمتګار تحريک کښې شاملېدو او تر مرګه پورې به ورسره ؤ.

جلبل د هشنغر سره سره د سوات بنېر، دير، باجوړ پورې د ملاکنډ په غرونو اوړېدلے ؤ او د آزادۍ د شمعې پتنګان ئې زيات کړي وو. د ۱۹۳۰ زمانه وه د جلبل صېب عمر به په مشکله پنځلس کاله ؤ چې انګرېز ته پته ولګېده چې دا نوځېزه ځلمے د کليو دورې کوي او خلق زمونږ خلاف راپاروي نو سمدستي ئې د دوي د ګرفتارۍ وارنټ جاري کړو، ولې جلبل صېب د خپل مقصد د تکميل دپاره ګرفتاري ورنۀ کړه. جلبل صېب پټ په پټه ګرځېدو

او د آزادۍ د شمعې پتنګان به ئې پيدا کول. د پېرنګي پوليس چې نبۀ سترے شو او هره حربه ئې ناکامه شوه نو د دوي بوډا پلار چې د پنځۀ د پاسه د سلو کالو ؤ، هغه ئې ګرفتار کړو او جېل ته ئې بوتلو، ولې د هغوي دا حربه هم کاميابه نۀ شوه او جلبل صېب د آزادۍ په خاطر دا غم هم برداشت کړو. د الله کارونه وو ډېر زر د کانګرس او د پېرنګيانو روغه وشوه او د نورو سياسي قېديانو سره ئې د جلبل صېب پلار هم آزاد کړو.

په ۱۹۳۱ کښې بيا ګرفتارۍ شروع شوې. پوليس مشر چې د دۀ عمر ته وکتل او د دۀ جذبې ته ئې وکتل نو حېران شو او په هغه شپه ئې ګرفتار نۀ کړو. جلبل صېب بيا ګرفتاري ورنۀ کړه د کلي نه بهر شو. دوي د علاقې يو طوفاني دوره ډېره په چل ول وکړه، کوم خدائي خدمتګاران چې د ګرفتارو نه پاتې شوي وو، هغوي ئې راغونډه کړل او په دې غونډه کښې ئې جلبل صېب د صوبې مشر سکتر (جنرل سکتري) مقرر کړو. په کال ۱۹۳۲ کښې د شاه ډنډ د مېرې نه پېرنګيانو ګرفتار کړو. دولس ورځې ئې حوالات ورکړو د دې نه پس ئې د چارسدې مجسټرېټ عبدالغفور خان ته پېش کړو چې هغۀ ورته د تعليم حاصلولو نصيحت وکړو نو دوي په يوه ټپه کښې جواب ورکړو:

تعليم به هله بيا کومه

چې د وطن په آزادۍ مشرف شمه

د دې په اورېدو مجسټرېټ دے درې کاله قېد کړو او نبغ ئې د رسالپور پوځي کېمپ ته ورسولو. وروستو ئې بيا هرې پور ته واستولو او ټول قېد ئې دغلته تېر کړو. په ۱۹۳۵ کښې ئې په کوټ مېنه کښې عبداللطيف افندي سره يو آزاد سکول جوړ کړو او دغلته به ئې هم ځلميانو ته د آزادۍ درس ورکولو نو د ملاکنډ انګرېز پوليټيکل ايجنټ سحر لطيف افندي او جلبل صېب ګرفتار کړل. افندي صېب ئې په ملاکنډ کښې وساتلو او جلبل صېب ئې هرې چند سره په ډاک بنګله کښې بنديوان کړو. څۀ وخت پس ئې بيا ملاکنډ ته بوتلو او څو ورځې پس ئې آزاد کړو. د دې هلو ځلو په وجه څو څو ځله د جلبل صېب کور تالا شوے دے.

۱۹۳۶ کښې انګرېز پوليس د دۀ په کور چاپه ووهله او د کور قيمتي سامان سره سره ئې د غلې بوجو ته هم اور ورته کړو او هر څۀ ايره شو. په ۱۹۳۵ کښې د کانګرس او د انګرېز حکومت روغه وشوه او هم په دغه کال د خدائي خدمتګارانو وزارت هم جوړ شو. په کال ۱۹۳۶ کښې يو وارې بيا د خدائي خدمتګارانو مشر باچا خان جلسې جلوسونه شروع کړل، په دغه جلسو کښې به جلبل صېب زړۀ لړزونکي نظمونه وئيل او خلق به ئې بېدارول. آخر دا چې په اګست ۱۹۴۷ کښې پاکستان جوړ شو، په وړومبۍ دستور سازې اسمبلۍ کښې باچا خان د ملک د سالميت او وفادارۍ حلف اوچت کړو خو بيا وروستو په دوي د ملک سره د غدارۍ مهر ولګېدو او يو ځل بيا ئې د خدائي خدمتګارو د ګرفتارولو اعلان وکړے شو، باچا خان ئې په پنياله کښې ګرفتار کړو او د سعادت خان جلبل د ګرفتارۍ وارنټ هم جاري شو. جلبل صېب ګرفتاري ورنۀ کړه او حکومت ورله کور تباه کړو. په ۱۹۶۱ کښې سعادت جلبل ګرفتار کړے شو او مجسټرېټ ته ئې پېش کړو، مجسټرېټ ترې تپوس وکړو چې تۀ د افغانستان ايجنټ ئې،

هغوي جواب ورکړو چې ایجنټ تهٔ ئې او زهٔ خدائي خدمتګار یم په دې خبره ئې هغوي جېل ته ولېږل او درې کالو کښې ئې پرې پېښور سنټرل جېل، هري پور، کېمبل پور، ملتان او د ډېره اسماعیل جېلونه وکتل او آخر په ۱۹۶۳کښې ورته رهائي ملاؤ شوه.
سعادت جلبل چې د پښتون قام دپاره کومې قربانۍ ورکړې دي، د هغې نه کتابونه ډک دي ځکه چې هغه یو کلک غېرتي خواخوږے او سرباز پښتون ؤ.